دو فصلنامۀ
مجلۀ علمی- تحقیقی عینک – علمي‌څېړنیزه شپږ میاشتنۍ
د امتیاز خاوند: لوگر پوهنتون
د مجلې د جواز نېټه: ۱۴ / ۱۱/ ۱۴۴۴

# په اسلامي شریعت کې د اوبو ارزښت، سپما او مدیریت

**نوماند پوهنیار محیب الرحمن خدام**

فقه او قانون څانگه، شرعیاتو پوهنځی، لوگر پوهنتون، لوگر، افغانستان.

برېښنالیک:.muhebseyaad@gmail.com

## لنډیز

**د مسئلې بیان:** په دې څېړنه کې د اسلامي شریعت په رڼا کې د اوبو ارزښت، سپما او مدیریت اړوند عمومي قواعد روښانه شوي دي.

**د څېړنې تگلاره:** څېړنه د کتابتوني (تحلیلي) مېتود پر بنسټ تر سره شوې ده.

**د څېړنې موخه**: په دې څېړنه هدف دا دی چې د اوبو د سم استعمال په اړه د اسلامي شریعت سپارښتنې او عمومي قواعد د خلکو تر منځ عامه پوهاوی رامنځته کړي.

**د څېړنې موندنې:** موندنې څرگندوي چې د قرآن کریم په نصوصو کې اوبه له ستر ارزښت څخه برخمنې دي او له بې‌ځایه اسراف څخه په ټینگار سره منعه راغلې ده. همدارنگه فقهاؤ د شریعت د نصوصو پر بنسټ د اوبو د مدیریت مهم قواعد وضع کړي دي چې په عملي کولو سره یې د اوبو ساتنه کېږي او له اسراف او کمبود څخه یې مخنیوی ممکن دی.

**د څېړنې پایله:** د څېړنې پایله دا ده چې د اوبو ساتنه او له بې‌ځایه مصرف او ضرر څخه یې مخنیوی یو شرعي مسئولیت دی، ځکه د اسراف د منع او د ضرر اړوند نصوص او عمومي قواعد پر دې ټینگار کوي.

**کلیدي کلیمې**: اسراف، اوبه، اسلامي شریعت، د اوبو مدیریت، سپما.

**استناد**: خدام، محیب الرحمن. (۱۴۰۴) په اسلامي شریعت کې د اوبو ارزښت، سپما او مدیریت، *دوفصلنامۀ علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه مجله*، دریم کال، ۵ گڼه، مخ ۲۲۷- ۲۴۹ :DOI

ناشر: پوهنتون لوگر
حق‌مؤلف © نویسندگان.

**سريزه**

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰالَمِینَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِینَ وَعَلٰی آلِهِ وَاَصْحٰابِهِ أَجْمَعِینَ، وَبَعْدُ!

په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه د اوبيزو سرچينو د کمښت مسئله، چې زموږ ګران هېواد افغانستان هم ورسره مخ دی، يوه جدي ستونزه ده. د دې ستونزې د حل په موخه په نړيواله او ملي کچه هلې ځلې شوې دي او لا هم روانې دي. د دغو هڅو د پياوړتيا لپاره په دې څېړنه کې د اوبو د ارزښت، سپما او مديريت په اړه د اسلامي شريعت له نظره عمومي سپارښتنې او قواعد څېړل شوي دي، څو لوستونکي د اوبو د سم استعمال په اړه د اسلامي شريعت له عمومي سپارښتنو سره بلد شي، او د يو کامل مسلمان په توګه ـ چې د شريعت ټولو لارښوونو ته ژمن وي ـ دغه سپارښتنې او قواعد د ايماني او اسلامي وجيبې له مخې په زړه ومني او عمل پرې وکړي.

**الف: د مسئلې بيان**

په تدريجي ډول د اوبو د کمښت زياتېدل او له دې سره هم‌مهاله د خلکو بې‌ځايه استعمال هغه ستونزه ده چې د خلکو پر ژوند يې ژور اغېز کړی دی. په دې څېړنه کې د اسلامي شريعت له نظره د اوبو د ارزښت، سپما او مديريت اړوند عمومي سپارښتنې او بنسټيز قواعد روښانه شوي دي؛ څو د دغو قواعدو په تطبيق سره د اوبو د سم مديريت لپاره عملي لارې چارې رامنځته شي او د خلکو له لورې د اوبو د محدوديت منل د يو شرعي او ټولنيز مسؤليت په توګه يقيني شي.

**ب: د څېړنې ارزښت او اړتيا**

د دې څېړنې ارزښت په دې کې نغښتی دی چې د اوبو د سم او ناسم استعمال په اړه په کې د ديني منل شوو اصولو او لارښوونو روښانه کول تر سره شوي دي. په افغانستان کې د زراعتي او صنعتي پرمختګ او د نفوس د زياتوالي له امله د اوبو مصرف ورځ تر بلې ډېرېږي، په داسې حال کې چې اوبيزې سرچينې په دوامداره ډول د کمېدو له ګواښ سره مخ دي. له همدې امله اړينه ده چې د اوبو د ارزښت او سمې استفادې په اړه پراخ عامه پوهاوی رامنځته شي.

**ج: پخوانيو څېړنو ته کتنه**

د اوبو د ارزښت او مديريت په اړه د شرعي علومو له اړخه په ملي او نړيواله کچه ګڼ شمېر څېړنې تر سره شوې دي، چې يو څو عربي څېړنې يې لاندې ډول دي:

1. مبادئ ترشيد استهلاک المياه. عبدالحميد المجالي. مجلة، دراسات علوم الشريعة والقانون. المجلد ۳۲. العدد ۲. ۲۰۰۵.
2. ادارة المياه في الاسلام. نصير الفرقاني، نادر الخطيب. المجلة العربية لاخلاقيات المياه. العدد(۱) ابريل ۲۰۱۸.
3. ادارة المياه في الشريعة الاسلامية. د. الصادق كرشيد. مجلة الحقيقة. عدد الخاص بالملتقى الدولى التاسع. الماء ورهانات المستقبل. ۲۱نومبر ۲۰۰٦.
4. أهمية الماء وتدابير المحافظة عليه في القران والسنة. عبدالعزيز عزوزي. وجواد عجوري. مجلة الشرق الأوسط للعلوم الانسانية والثقافية. المجلد۴. العدد ۳. ۲۰۲۴.
5. وأهمية الحفاظ على نوعيتها وطرق ترشيد استخدامها من منظور اسلامي. عبدالفتاح لطفي عبدالله. مجلة جرش للبحوث والدراسات. المجلد۲۳. ۱- ۲۰۲۲.

پر ملي کچه باندې ما يواځې يوه علمي څېړنه تر لاسه کړه چې په پښتو ژبه خپره شوې ده:
په اسلام کې د اوبو ارزښت. پوهاند اسرارالحي منيب او پوهنمل احسان الله ناصح. که څه هم په ياده مقاله کې د اوبو له ارزښت څخه بحث شوی دی، مګر د مديريت او سپما په اړه چې اسلامي شريعت کومې سپارښتنې لري، هغه په کې په واضحه توګه نه دې ښکاره شوې، ځينې ځايونو کې په ضمني توګه په ډېر لنډ ډول يادونه شوې ده؛ نو ځکه مو اړينه وبلله چې د اوبو له ارزښت سره د سپما او مديريت په اړه هم د اسلامي شريعت منل شوي قواعد په لنډ ډول په پښتو ژبه واضح کړو.

### د: د څېړنې موخې

د دغې څېړنې اصلي او فرعي موخې لاندې ډول دي:

اصلي موخې:

د اسلامي شريعت له نظره د اوبو پر ارزښت باندې رڼا اچول.

د اوبو د سپما او سم استعمال په هکله عامه پوهاوی رامنځته کول.

فرعي موخې:

د اوبو له اسراف څخه مخنيوی.

د اوبو له ککړتيا او عمومي ضرر څخه د مخنيوي په هکله د اسلامي شريعت په سپارښتنو باندې د خلکو خبرول.

**هـ: د څېړنې پوښتنې**

د غه څېړنه به لاندې پوښتنو ته ځواب وايي:

عمومي پوښتنې:

په اسلامي شريعت کې اوبه له څه ډول ارزښت څخه برخمنې دي؟

اسلام مبارک دين د اوبو د مديريت او کنترول لپاره کومې سپارښتنې او ضوابط لري؟

فرعي پوښتنې:

د اوبو د اسراف په اړه د اسلامي شريعت سپارښتنې څه دي؟

د اوبو له زيات استعمال څخه د رامنځته شوي عمومي ضرر د مخنيوي په هکله اسلامي شريعت کې کوم محدوديتونه شته کنه؟

**مواد او کړنلاره**

د موضوع منځپانګې ته په کتو سره ياده څېړنه د کتابتوني (تحليلي) مېتود له لارې بشپړه شوې ده، په څېړنه کې لومړی قرآن کريم او تفسيرونو، وروسته د حديثونو او د حنفي فقهاؤ معتبرو کتابونو او بيا د موضوع اړوندو علمي مجلو او سايټونو ته رجوع شوې ده، د آيتونو پښتو ژباړه مې د پښتو ژبې له عزيزالتفاسير څخه اخېستې ده چې لوستونکي يې په اړوندو آيتونو کې موندلی شي.

دا څېړنه د اوبو د ارزښت او ساتنې په اړه د عامه پوهاوي د رامنځته کولو په موخه تر سره شوې ده، نه د کومې فتوا د صادرولو لپاره. له همدې امله له فقهي اختلافاتو، جزئي مسائلو او ترجيحاتو څخه ډډه شوې ده او څېړنه يوازې پر عمومي منل شويو مسائلو راڅرخي.

**۱. د اوبو پېژندنه**

اوبه په لغت او اصطلاح کې د مختلفو علومو له نظره په مختلفو الفاظو سره تعريف شوې دي، خو دا چې زموږ څېړنه د شرعي علومو سره تړاو لري، نو له همدې امله موږ اوبه د عربي د لغت او د شرعي علومو پوهانو له نظره د مستقل عنوان لاندې معرفي کوو، ترڅنګ يې په لنډه توګه د مستقل عنوان او د اوسنيو طبيعي علومو له اړخه هم تعريفوو.

**۱،۱. لغوي تعريف**

اوبه چې په عربي کې ورته «ماء» وايي، ماء د عربي ژبې علماء داسې تعريفوي: «الماءُ: الذي يُشْرَبُ» اوبه هغه شی چې څښل کېږي. اصل کې «مَوَهٌ» دی، هاء پر همزې باندې بدله شوې ده،

جمع قلت يې أمواه او جمع كثرت يې مياه راځي[۱]، «مُوَيه» يې تصغير دى، أمواء يې هم جمع راځي[۲]. همدا د دې دليل دى چې ماء په اصل کې مَوَه دى.

«عرب وايي: مَوَّهْتُ الشَّيْءَ، كَأَنَّكَ سَقَيْتَهُ الْمَاءَ» شی مې اوبلن کړ، ګواکې لکه ته چې اوبه ورکړې. «وَمَوَّهْتُ الشَّيْءَ: طَلَيْتُهُ بِفِضَّةٍ أَوْ ذَهَبٍ، كَأَنَّهُمْ يَجْعَلُونَ ذَلِكَ بِمَنْزِلَةِ مَا يُسْقَاهُ» او شی مې اوبلن کړ، يعنې د سرو يا سپينو په اوبو مې ککړ کړ. «وَقَالُوا: مَا أَحْسَنَ مُوهَةَ وَجْهِهِ، أَيْ تَرَقْرُقَ مَاءِ الشَّبَابِ فِيهِ.» او عرب وايي: د مخ اوبه يې څومره ښې دي؟! يعنې د ځوانی اوبه يې ځلا کوي[۳].

**۱. ۲. اصطلاحي تعريف**

فقهاؤ رحمهم الله په خپله اصطلاح کې اوبه په لاندې توګه تعريف کړې دي: «الماء: سائل تستمد منه جميع الكائنات حياتها: * (وجعلنا من الماء كل شئ حي) * ينبع من الارض، أو ينزل من السماء لا طعم له ولا رائحة ولا لون[٤]» ژباړه: اوبه هغه بهيدونکی شی دی چې ټول کائنات د ژوند تېرولو لپاره ترې مرسته اخلي، (لکه په آيت شريف کې چې ويل شوي دي) که له ځمکې راخېژي يا له اسمانه را توييږي، نه خوند لري او نه بوی او نه رنګ.

شُرنبلالي رحمه الله يې بيا داسې تعريفوي: «والماء جوهر شفاف لطيف سيال والعذب منه به حياة كل نام[٥]». ژباړه: اوبه شفاف، باريکه، بهيدونکی جوهر دی او په خوږو سره يې د هر نامي (نمو کونکي) ژوند دی، دې ته ورته تعريف يې ابن عابدين رحمه الله هم کړی دی: «وَهُوَ جِسْمٌ لَطِيفٌ سَيَّالٌ بِهِ حَيَاةُ كُلِّ نَامٍ[٦]». ژباړه: اوبه هغه باريکه بهيدونکی جسم دی چې د دې په سبب سره د هر نمو کونکي ژوند تړلی دی. خلاصه دا چې فقهاؤ ظاهري خواصو ته په کتو سره د اوبو تعريفونه کړي دي، لکه شفافيت، مايع والی (بهاندتوب) او نورې د اوبو ښکاره ځانګړنې.

---

۱. جوهري، أبو نصر، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية، ج٦ ص ۲۲۵۰. ط۴. بيروت: دارالعلم للملايين، ۱۹۸۷م.
۲. الفيومي، أحمد، المصباح المنير فی غريب الشرح الكبير، ج۲ ص ۵۸٦. ط؟، بيروت: المكتبة العلمية، ب ت.
۳. ابن فارس، أحمد. معجم مقاييس اللغة، ط۲، ج۵ ص۲۸٦. بيروت: دارالفكر، ۱۳۹۲هـ ق. او ابن منظور، محمد. لسان العرب، ج۱۳ ص۵۴۳. ط۳، بيروت: دارصادر، ۱۴۱۴هـ ق
٤. قلعجی، محمدرواس. او قنيبی، حامدصادق. معجم لغة الفقهاء. ص۳۹۵. ط۲. ناشر: دارالنفائس، ۱۴۰۸هـ ق.
۵. الشرنبلالي، حسن بن عمار. مراقي الفلاح شرح نورالايضاح، ص۱۴. ط۱. ناشر: الكمتبة العصرية، ۱۴۲۵هـ ق.
٦. ابن عابدين، محمدامين، حاشية ردالمحتار على الدرالمختار، ج۱ ص۱۷۹. ط۲، مصر: مصطفی البابي الحلبي، ۱۳۸٦هـ ق. او الموسوعة الفقهية الكويتية، ج۳۹ ص۳۵۲. ط۲، الكويت: دارالسلاسل، ۱۴۲۷هـ ق.

د اوسنیو طبیعي علومو له نظره: اوبه هغه ماده ده چې د ځمکې په کره کې په زیاته اندازه شتون لري، مختلفو شکلونو لکه دریابونه، بارانونه، رودونه او نورو په څېر لیدل کېږي، ۳/۴ یې د ځمکې کره پوښلې ده، ٪۲ یې خوړېږي اوبه دي[۱]. کېمیاوي ترکیب یې $H_2O$ او د میتابولیزم په عملیو کې مهم رول لري. له کېمیاوي، فزیکي، بیولوژیکي، طبي او صنعتي اړخه داسې خواص لري چې یواځې تر اوبو پورې منحصر دي او په نورو کېمیاوي مرکبونو کې اصلا نه لیدل کېږي.

**۲. په اسلام کې د اوبو ارزښت**

اوبه د الله جل جلاله له نعمتونو څخه یو لوی نعمت دی، تر دې چې الله جل وعلی شانه یې په قرآن کریم کې چې د اسلامي شریعت لومړنی اصلي منبع دی، د «ماء» په توري سره(۵۷) ځلې د ګڼ شمېر موخو لپاره یادونه کړې ده، په مجموع کې یې ډېر ځله انسانانو ته اوبه له خپله لوري څخه د یوه نعمت په توګه یادونه کړې ده، همدارنګه یې د الله جل وعلی شانه د قدرت او وحدانیت له نښانو څخه یوه نښانه بللې ده، دا چې د اوبو ارزښت ښه روښانه شي، نو موږ یې تر مختلفو عنوانو لاندې ارزښت څېړو.

**۲. ۱. اوبه د ژوند بنسټیز اصل**

په قرآن کریم کې اوبه د حیواناتو د پیدایښت د سبب په توګه یادې شوي دي، لکه: وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا[۲]. ژباړه: (او الله تعالی هغه ذات دی چې له اوبو څخه یې بشر پیدا کړ، بیا یې هغه نسب او خسرګنی والا وګرځاوه او ستا رب ښه قادر دی).

تر دې چې په قران کریم کې اوبه د ټولو کائناتو د ژوند لپاره یو بنسټیز اصل بللی شوې دي، لکه: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ[۳]. ژباړه: او موږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پیدا کړي دي، آیا نو دوی ایمان نه راوړي؟.

د آیت په تفسیر کې دوه قوله دي، یو دادی چې مراد ترې نطفه ده، بل دا چې له اوبو نه مراد دغه معلومې اوبه دي یعنې اوبه مو د هر ژوندي کائن د ژوند لپاره سبب ګرځولې دي. او دا د ډېرو مفسرینو قول هم دی[٤]. فخرالدین رازي رحمه الله هم د دې قول په تائید لیکي چې په ژوندي

۱. مصمم، محمدسردار. کیمیا تحلیلي مقاری، ص ۱۳۰. ط ؟کابل: انتشارات جهان اسلام ۱۳۹۸هـ ش.

**۲- الفرقان: ٥٤آیت**

۳- الأنبیاء: ۳۰آیت

٤. ابن الجوزي، جمال الدین. زاد المسیر في علم التفسیر، ج3 ص189. ط ۱، بیروت: دارالکتاب العربي، ۱۴۲۲هـ ق.

شي(کل شئ) کې دلته بوټي هم شامل دي، یوازې حیوان ترې مطلب نه دی؛ ځکه اوبه د نباتاتو د رطوبت، ودې، ځلا او میوو راوړولو لپاره هم سبب دي[1]

د همدې قول په تائید باندې یو روایت هم نقل شوی دی: «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: إِنِّي إِذَا رَأَيْتُكَ طَابَتْ نَفْسِي، وَقَرَّتْ عَيْنِي، فَأَنْبِئْنِي عَنْ كُلِّ شَيْءٍ، قَالَ: " كُلُّ شَيْءٍ خُلِقَ مِنَ الْمَاءِ[2]"». ژباړه: له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی، چې نوموړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وې ویل: زه چې تا ووینم خوشاله شم، او سترګې مې یخې شي، نو د هر شی (له پیدایښت څخه) ماته خبر راکړه! رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: «هرشی له اوبو څخه پیدا شوی دی».

دا هغه خبره ده چې ۱۴۰۰ کاله وروسته سایټولوژي یا سیل‌بیولوژي/Cell Biology ثابته کړه چې د هر ژوندي موجود بدن له ٪۵۰ څخه تر ٪۹۰ سلنه پورې اوبه تشکیلوي.

**۲,۲. اوبه د الله جل جلاله د قدرت او وحدانیت نښانه**

لکه څنګه چې اوبه د کائناتو د ژوند لپاره یو اساسي اصل دي، نو د همدې له امله د الله جل وعلی شانه د قدرت او ځواک له نښانو څخه یوه ښکاره او منل شوې نښه بلل کېږي، په قرآن کریم کې یې د همدې موخې لپاره ډېر ځله یادونه شوې ده، ترڅو انسان عبرت واخلي او خپل خالق ته تسلیم شي، لکه په لاندې آیتونو کې چې الله تعالی فرمایلي دي: وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ[3]. (ژباړه: او په هغه څه کې چې الله جل جلاله له اسمانه را اورولي دي چې اوبه دي، نو په دې سره یې ځمکه د هغې د مړه کېدو (وچېدو) نه پس ژوندۍ کړه، او په دې کې یې هر ډول ساکښ خواره کړل، او د بادونو په ګرځولو راګرځولو او په وریځ کې چې د اسمان او ځمکې تر منځ مسخره شوې ده، هرو مرو دهغه قوم لپاره نښې دي چې عقلمند وي( دالله په قدرت باندې. یعنې په دې شیانو کې د الله جل جلاله په وحدانیت باندې ښکاره دلائل دي[4].

۱. الرازي، فخرالدین. مفاتیح الغیب=التفسیرالکبیر، ج۲۲ ص ۱۳۸. ط۳، بیروت: داراحیاء التراث العربي، ۱۴۲۰هـ ق.
۲. ابن حنبل، أحمد. مسند أحمدبن حنبل، ج ۱۴ ص۴۹. ط ۱، ناشر: مؤسسة الرسالة ۱۴۲۱هـ ق.
۳. البقرة: ١٦٤آیت.
٤. ابن کثیر، عماد الدین. تفسیرالقرآن العظیم، ج ۲ ص ۳۰. ط ۱، السعودیة: دارابن جوزی، ۱۴۳۱.

الله تعالی فرمایلي دي: وَاللَّهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ[۱]. ژباړه: او الله جل جلاله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بیا یې په هغو سره ځمکه راژوندۍ کړې ده، وروسته د هغې (ځمکې) له مرګه(وچیدو)، بې شکه په دې کې خامخا لویه نښه ده دهغه قوم لپاره چې اوري.

بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي: الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى(۵۳) كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهَى[۲].(او هغه رب چې له اسمانه یې اوبه نازلې کړې دي، پس په دې سره موږ بېلابېل له مختلفو نباتاتو څخه راایستلي دي، تاسو یې وخورئ او څاروي پکې وځروئ! بې شکه په دې شیانو کې د عقل خاوندانو ته ډېرې نښې دي.

الله تعالی فرمایلي دي: وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُون[۳]. ژباړه: او د هغه له نښو داده چې تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښئي، او (بله دا) چې له اسمانه اوبه را اوري، بیا ځمکه پرې دهغې له مرګه (وچېدو) پس ژوندۍ کوي، بې شکه په دې د هغه قوم لپاره چې له عقل څخه کار اخلي د الله جل جلاله په قدرت نښې دي.

همداډول په قرآن کریم کې په صریحي توګه د توحید دلیل هم بلل شوی دی: لکه: وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ[٤]. ژباړه: او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اوبه له اسمانه چا نازلې کړې دي او بیا یې ځمکه وروسته له مرګه(وچیدو) پرې ژوندۍ کړې ده؟ خامخا به دوی وایي چې الله(دا کار کړی دی). نو ووایه! ټول د کمال صفتونه الله لره دي. بلکې د دوی اکثره له عقل څخه کار نه اخلي. یعنې: دوی (مشرکین) په هغه څه چې دوی یې وایي او په هغه څه چې هغه د شرک په بطلان او د توحید پر سمون باندې دلالت کوي، نه پوهېږي[٥].

۱. النحل: ٦٥ **آیت**.
۲. طه: ۵۳-٥٤آیتونه
۳. الروم: ٢٤ آیت.
٤. العنکبوت: ٦٣آیت
۵. الرومي، ابن کمال باشا. تفسیر ابن کمال باشا، ج ۸ ص ۱۱۰. ط ۱، استنبول: مکتبة الارشاد، ۱۴۳۹هـ ق.

### ۲. ۳. اوبه د پاکولو وسیله

اوبه د ژوند د یو بنسټیز اصل او د الله جل جلاله پر وحدانیت او قدرت باندې د دلالت تر څنګ د پاکوالي یوه ارزښتمنه ټولنیزه دنده هم لري، د بدن، لباس او نورو شیانو څخه نجاستونه د اوبو په وسیله له‌منځه ځي، ترڅو انسان پاک شي او له خپل رب سره په لمانځه او عبادت کې د مناجات او لقاء وړ وګرځي، لکه الله جل جلاله فرمايي: وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ[1] ژباړه: او پر تاسې باندې له اسمانه اوبه نازلوي ترڅو د دې اوبو په وسیله سره پاک شئ!.

بل ځای کې فرمايي: وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا[2] ژباړه: او موږ له اسمانه ښې پاکوونکې اوبه نازلې کړې دي. یعنې اوبه هغه آله ده چې پاکوالی پرې کېږي[3]. او موږ په خپل عظمت او رحمت سره داسې اوبه نازلې کړې دي چې خپله پاکې او د بل شی لپاره هم پاکوونکي دي، نو د باران او ځمکې دواړه اوبه پاکې او پاکوونکې هم دي[4].

### ۲. ۴. اوبه د کرنیز اقتصاد مهم عنصر

په قرآن کریم دېرځله له اوبو څخه په ځمکه کې د نباتاتو د ودې د یوه لوی لامل په توګه یادونه شوې ده او د کرنیز اقتصاد لپاره اوبه یو مهم عنصر بلل شوې دي. لکه په لاندې ځینې آیتونو کې: وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّاتٍ مِنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ انْظُرُوا إِلَى ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهِ إِنَّ فِي ذَلِكُمْ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ[5] ژباړه: او الله جل جلاله هغه ذات دی چې له اسمانه يې اوبه رانازلې کړې دي، بیا موږ د هغو په وسیله هر راز نباتات راوټوکول، بیا مو ورڅخه شنه ښېرازه کښتونه راوویستل، بیا موږه ورڅخه لاندې باندې دانې راوباسو او د کجورو د ونو له ځانګو څخه وښکالي(شنګلې)چې له دېر بار نیولو څخه ښکته رازانګي؛ او د انګورو، زیتونو او انارو باغونه جوړ کړل چې میوې یو بل ته ورته، خو د هرې یوې خصوصیات بېل هم دي، میوو ته یې وګورئ!

---

۱. الأنفال: ۱۱آیت.
۲. الفرقان: ٤٨آیت.
۳. تفسر القرآن العظیم، ج۵. ص۵۹۸.
٤. التفسیر الوسیط للقرآن الکریم، ج۷ ص۱۵۲۴. ط۳، مصر: المطابع الأمیریة، ۱۴۱۴هـ ق.
۵. الأنعام: ۹۹آیت.

چې کله میوه ونیسي او پخه شي، بې شکه چې په دې ټولو کې خامخا د هغه قوم لپاره چې باور کوي نښانې دي.

یعنې: په دې کې د الله جل جلاله عجیب صنعت او ناشنا خلقت ته اشاره ده چې د ټولو سبب یو دی چې اوبه دي او مسببات یې مختلف شیان دي[۱]. او د اوبو په وسیله چې له اسمانه یې را اورو د چارپایانو، مرغانو، وحشي ژویو او انسانانو روزي برابرو، کومه چې دوی پرې تغذیه کېږي او خوري یې، نو په همدې اوبو باندې دا شیان را شنه کېږي او وده کوي[۲].

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ[۳]. ژباړه: الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړې ده او له اسمانه یې اوبه نازلې کړې دي، بیا د همدې اوبو په وسیله سره له مېوو څخه تاسې ته رزق درکړی دی)

همدا ډول بل ځای کې فرمايي: هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ(۱۰) يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ[٤]. دا هغه ذات دی چې له اسمانه یې اوبه را اورولې دي، له هغو اوبو نه ستاسو لپاره څښاک دی، او له همدې اوبو څخه بوټې دي چې تاسو پکې څاروي څروئ!)

همدارنګه بل ځای کې فرمايي: أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ[٥] ژباړه: آیا نه ګورې چې الله جل جلاله له اسمانه اوبه را اورولې دي او بیا د همدې په سبب ځمکه زرغونوي، بې شکه الله د لطف خاوند او باخبره دی.

بل ځای کې فرمايي: أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ[٦] ژباړه: ایا ته نه ګورې چې الله له اسمانه اوبه راورولې دي، بیا یې هغه د چینو په شکل په ځمکه کې بهولې دي، بیا د همدې اوبو په وسیله سره ډول ډول کښتونه راباسي چې مختلف رنګونه یې وي.

---

۱. تفسیر ابن کمال باشا ج3 ص 379.
۲. الطبري، ابن جریر. تفسیر الطبري، ج9 ص ۴۴۴. ط ۱، قاهرة: دارهجر للطباعة، ۱۴۲۲هـ ق.
۳. إبراهیم: ۳۲آیت.
٤. النحل: ۱۰-۱۱آیت.
۵. الحج: ٦۳آیت.
٦. الزمر: ۲۱آیت.

**۲. ۵. اوبه د الله جل جلاله نعمت**

اوبه په نړۍ کې د ټولو کائناتو لپاره یو ستر نعمت دي، الله جل وعلى شانه يې يادونه کوي او بيا وايي چې ولې شکر نه باسئ! لکه چې فرمايي: أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ (٦٨) أَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُونَ (٦٩) لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ[۱]. ژباړه: آيا تاسو هغو اوبو ته نه گورئ چې څښئ يې؟ آيا تاسو له سپينو ورېځو نه را اورولې دي او که موږ يې اورونکي يو؟ که موږ وغواړو نو تروې ترخې به يې وگرځوو، نو تاسو ولې شکر نه باسئ!. يعنې: ولې د الله جل جلاله په تاسو باندې د دغه نعمت چې خوږ او نرم باران درباندې اوروي، شکر نه باسئ![۲].

همدارنگه په قرآن کريم کې اوبه په مختلفو ښو صفتونو سره يادې شوې دي، لکه مبارکې اوبه، خوږې اوبه او راورېدلې اوبه. : وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُبَارَكًا[۳]. يعنې د خير اوبرکت اوبه. وَأَسْقَيْنَاكُمْ مَاءً فُرَاتًا[٤] يعنې: تاسو مو په خوږو اوبو سيرابه کړئ يئ. وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا[٥]. يعنې: او له ورېځو او بادونو نه مو پرله پسې راتوييدونکې اوبه نازلې کړې دي.

**۳. د اوبو سپما او مديريت**

سپما چې په دري کې معادل لفظ «صرفه‌جويی» او په عربي کې ورته «الاقتصاد في الماء» يا «عدم الاسراف في الماء» او يا «توفير استهلاک المياه» راځي، خو په اوسنيو نويو اصطلاحاتو کې ورته «ترشيد استهلاک المياه» استعمالېږي او تر دې سرليک لاندې يې د مديريت او سپما په هکله اکاډميکې څېړنې هم شوې دي، نو موږ هم مخکې له دې چې په اسلامي شريعت کې د اوبو د سپما او مديريت په هکله بحث وکړو، لومړی به د اوبو سپما او مديريت معرفي کړو.

---

۱. الواقعة: ٦٨-٧٠ آيت.
۲. تفسير ابن كثير - ط ابن الجوزي ج7 ص:154.
۳. ق: ۹آيت.
٤. المرسلات: ۲۷آيت.
٥. النبأ: ١٤آيت.

**۳. ۱. د اوبو سپما:** د اوبو له سپما څخه موخه داده: چې په عباداتو، ځنباک، نظافت او یا نورو مواردو کې د دومره مقدار اوبو کارول چې خپل هدف ترې لاسته شي، بې له دې چې د اوبو کوم مقدار بې ځایه ضایع شي، که څه هم کمې وي[1].

**۳. ۲. د اوبو مدیریت**

د اوبو له مدیریت څخه موخه داده چې د مخکینیو ټاکل شویو اهدافو سره سم او د اوبو د سرچینو د کمیت او کیفیت په تناسب د اوبو د سرچینو پراختیا، وېش او د کارولو یې پلانول، او د بشري مداخلې کنترولول چې ممکن د سطحې او د ځمکې لاندې په اوبو اغېزه ولري[2].

پورتنیو تعریفونو ته په کتو سره دا جوتېږي، چې په نوي عصر کې د سپما او مدیریت مفهوم سره لږ توپیر لري؛ ځکه د اوبو مدیریت د سپما په پرتله پراخ مفهوم لري چې پلان گذاري، د اوبیزو سرچینو پراختیا، عادلانه وېش او د بشري مداخلې منع ته شامل دی. مگر په حقیقت کې سپما د اوبو د مدیریت یو اساسي موخه ده، نو په همدې اساس موږ هم غواړو چې د شرعي علومو سره په تړاو دا دواړه مفهومونه تر یوه عنوان لاندې وڅېړو.

په اسلامي شریعت کې د اوبو د استعمال او مناسب مصرف پر هکله باندې ځینې بنسټیز قواعد شتون لري، چې قواعدو ته په کتو سره مجتهدینو علماؤ بیا د اوبو د مدیریت، سپما او په اوبو کې د پېښېدونکو جنجالونو د مخنیوي په پار ډېر جزئي مسائل استنباط کړي دي، دا چې یاد جزئیات په یوه مقاله کې د رانغښتلو وړ نه دي او زموږ موضوع هم د هغوی څېړل نه ایجابوي؛ نوځکه ترې تېرېږو او په راتکونکي بحث کې د اوبو د سپما او مدیریت په هکله د شریعت عمومي قواعد څېړو او هغه قواعد په لاندې ډول دي.

**۳. ۳. په اوبو کې د خلکو گډون**

په اسلامي شریعت کې اوبه له ساتلو څخه وړاندې د ټولو خلکو تر منځ شریکې بلل شوې دي او له اوبو څخه په استفاده کې یې ټول خلک شریک بللي دي: لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دې اړه روایات نقل شوي دي: «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم: "

---

۱. المجالی، عبدالحمید. مبادئ ترشید استهلاک المیاه فی الفقه الاسلامي، دراسات علوم الشریعة والقانون، م۲۳، ع۷۲، (۲۰۰۵): ۲۷۳ – ۲۸۸، ص ۲۷۴.

۲. https://www.unescwa.org/ar/sd-glossary/) 7/22/2025 11:12:17 AM ادارة المیاه).

الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ: فِي الْمَاءِ، وَالْكَلَإِ، وَالنَّارِ[۱]» ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: مسلمانان په درېيو شيانو کې سره شريک دي، په اوبه، گیاه او اور.

اوبه په اصل کې الله جل جلاله د بنده گانو او چهارپایانو تر منځ شريکې پيدا کړې دي او د هغوی لپاره يې څښاک گرځولې دي، نو هېڅوک پر اوبو باندې له بل چا څخه خاص کېدای نه شي[۲].

د حديث همدې سپارښتنې ته کتو سره فقهاو هم ويلي دي چې اوبه له احراز(ساتنې) څخه وړاندې د ټولو خلکو تر منځ شريکې دي، هر يو ترې استفاده کولای شي، له همدې وجې د مجلة الاحكام دوه مادې د اوبو د شراکت په اړه حکم کوي:

(1234) ماده: »الْمَاءُ وَالْكَلَأُ وَالنَّارُ مُبَاحَةٌ ، وَالنَّاسُ فِي هَذِهِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ شُرَكَاءُ».(اوبه، گیاه او اور مباح دی، او خلک په دې دريو شيانو کې سره شريک دي).

(1235)ماده: «الْمِيَاهُ الْجَارِيَةُ تَحْتَ الْأَرْضِ لَيْسَتْ بِمِلْكٍ لِأَحَدٍ.» له ځمکې لاندې جاري اوبه د هيچا ملک نه دي[۳]). خو دا شرکت د اوبو له احراز(ساتنې) څخه وړاندې دی، کچيرې اوبه يوه شخص د ځان لپاره بېلې کړې، وه يې ساتلې، بيا ورسره نور خلک هېڅ ډول شرکت نه لري، لکه سرخسي رحمه الله چې فرمايي: «فَأَمَّا إذَا أَحْرَزَ الْمَاءَ فِي جُبٍّ أَوْ جَرَّةٍ أَوْ قِرْبَةٍ فَهُوَ مَمْلُوكٌ لَهُ حَتَّى يَجُوزَ بَيْعُهُ فِيهِ، وَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَأْخُذَ شَيْئًا مِنْهُ إلَّا بِرِضَاهُ[٤]» يعني: كله چې يوڅوک په سوري، يا چاتۍ او يا مشک کې اوبه بندي وساتي، نو دا د هغه مِلک دي، تر دې چې خرڅول يې ورته روا دي او هېڅوک نه شي کولای چې د هغه له خوښې پرته يې واخلي.

يا لكه علاءالدين السمرقندي رحمه الله چې ليكي«مَاء مَمْلُوك وَهُوَ مَا أحرز فِي الْأَوَانِي وَحكمه حكم سَائِر الْأَمْلَاك لَيْسَ لأحد فِيهِ حق وَلَا يحل لأحد أَن يَأْخُذهُ[٥]» يعني: مملوكې اوبه هغه دي چې په

١. ابن ماجه، محمد بن يزيد. سنن ابن ماجه، ج ٢ ص ٨٢٦. ط؟، ناشر: دارالاحياء الكتب العربية، ب ت. او السجستاني، أبوداود. سنن أبي داود. ج٣ ص ٢٧٨. ط ١، ناشر: دارالرسالة العلمية، ١٤٣٠هـ ق.
٢. الجوزية، ابن قيم. زاد المعاد في هدي خيرالعباد، ج٥ ص ٧٠٨. ط ١، بيروت: مؤسسة الرسالة، ١٤٢٧هـ ق.
٣. مجلة الأحكام العدلية، ص238. ط ؟، كراچى: آرام باغ، ب ت.
٤. السرخسي، محمدبن أحمد. المبسوط. ج23 ص 165. ط ؟. مصر: مطبعة السعادة. ب. ت.
٥. السمرقندي، علاء الدين. تحفة الفقهاء» ج3 ص 317. بيروت: دار الكتب العلمية. ط٢. ١٤١٤ هـ ق.

لوښو کې ساتل شوې وي او د نورو ملکیتونو په څېر یې حکم دی، د هیچا په‌کې حق نشته او نه یې چاته اخیستل روا دی.

### ۳. ۴. د مباح شیانو په مصرف کې له تیرې څخه منع

کله چې اوبه مباح او د عامو خلکو تر منځ شریکې دي، نو له مباحو شیانو څخه د استفادې په هکله هم په اسلامي شریعت کې له تجاوز او تیرې څخه منع راغلې او په هر څه کې په اعتدال باندې امر شوی دی، لکه الله جل جلاله په دې اړه فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ[۱] ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی کوم پاک شیان چې الله جل جلاله ستاسې لپاره حلال کړیدي، هغه مه حراموئ او له حده څخه تېری مه کوئ، بې شکه الله جل جلاله تېري کوونکي نه خوښوي.

اعتداء له هغه حد څخه تېری او بل څه ته تجاوز دی، کوم چې الله جل جلاله بندګانو ته ټاکلی[۲].

یعنې د الله جل جلاله له امره او د هغه جل جلاله له ټاکل شویو حدودو څخه تېری مه کوئ! او د حلالو شیانو څخه په استفاده کې اسراف مه کوئ! او د حلالو شیانو په تحریم کې تجاوز مه کوئ[۳]!

همدا ډول روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «يَكُونُ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الدُّعَاءِ وَالطُّهُورِ[٤]» ژباړه: په اخره زمانه کې به په دې امت کې یو داسې قوم وي چې په دعا او پاکوالي کې به له حده تجاوز کوي.

### ۳. ۵. د مال له بې ځایه مصرف څخه منع

دا چې په اوس وخت کې د ځمکې پر سر باندې د اوبو ارزښت ورځ پر ورځ لوړېږي، په کمبود سره یې محیط، زراعت او حیوانات ټول متضرره کېږي، نو اوس‌مهال اوبه یو ګران او ارزښتناک مال دی او په اسلامي شریعت کې د مال له بې ځایه ضایع کولو څخه منع راغلې ده، لکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی: «وَكَرِهَ لَكُمْ: قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ)[٥]».

ژباړه: او تاسو ته مکروه دي قیل او قال او ډېر سوال او د مال ضایع کول.

---

۱. **المائدة: ۸۷آیت.**

۲. تفسیر الطبري، ج۲ ص ۳۲.

۳. الزحیلي، وهبة. التفسیر المنیر في العقیدة والشریعة والمنهج، ج۷ ص ۱۳. ط ۱، دمشق: دارالفکر، ۱۴۱۱هـ ق.

٤ . مسند أحمد بن حنبل، ج27 ص 351 .

۵. البخاري، أبوعبدالله. صحیح البخاري، ج۲ ص ۸٤۸. ط۵، دمشق: دارابن کثیر، ۱۴۱۴هـ ق. رقم الحدیث۲۲۷۷

### ۳.٦. د اوبو له بې ځایه اسراف څخه منع

له اسراف څخه د بل هر دین په پرتله په اسلامي شریعت په زیات تاکید سره منع راغلې ده، لکه الله جل وعلی شانه فرمايي: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ[1] ژباړه: وخورئ او وڅښئ او اسراف مه کوئ! ځکه بې شکه چې الله جل جلاله اسراف کوونکي نه خوښوي.

وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ[2] ژباړه: او اسراف مه کوئ ځکه بې شکه چې الله جل جلاله اسراف کوونکي نه خوښوي).

بل ځای کې یې بې ځایه اسرف کوونکي د شیطان وروڼه بللي دي: وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا (٢٦) إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا[3] ژباړه او بې ځایه لګښت مه کوه ځکه بې شکه چې بې ځایه لګښت کوونکي د شیطانانو ورونه دي، او شیطان د خپل رب ناشکره دی.

مشهوره داده چې تبذیر هم د اسراف په مانا سره راځي، خو تحقیقي خبره داده چې د دې دواړو تر منځ هم توپیر شته دی چې ابن عابدین رحمه الله یې داسې تعریفوي: أَنَّ الْإِسْرَافَ صَرْفُ الشَّيْءِ فِيمَا يَنْبَغِي زَائِدًا عَلَى مَا يَنْبَغِي، وَالتَّبْذِيرُ صَرْفُهُ فِيمَا لَا يَنْبَغِي[4]» یعنې: د یوشي مصرفول په هغه ځه کې چې مصرف پکې مناسب وي خو له مناسبې اندازې څخه زیات. او تبذیر د یوه شي په هغه ځه کې مصرفول چې هلته یې مصرف بیخي مناسب نه وي.

همدا شان اوبه خو لاځه چې د صدقې، لباس په هکله هم له اسراف څخه منع راغلې ده، لکه روایت دی: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم: «كُلُوا وَاشْرَبُوا وَتَصَدَّقُوا وَالْبَسُوا مَا لَمْ يُخَالِطْهُ إِسْرَافٌ، أَوْ مَخِيلَةٌ[5]» یعنې: وخورئ! وڅښئ! صدقه وکوئ او لباس واغوندئ! تر هغې اندازې چې اسراف او کبر ورسره ګډ نه وي.

د عباداتو په مورد کې هم د اوبو د استعمال په هکله له اسراف څخه ممانعت راغلی دی، لکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی: «أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: " مَا هَذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ؟ " قَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ سَرَفٌ. قَالَ: " نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ

۱. الأعراف: ۳۱آیت.
۲. الأنعام: ۱٤۱آیت.
۳. الإسراء: ۲٦-۲۷آیتونه.
٤. ابن عابدین، ردالمحتار علی الدرالمختار، ج ٦ ص ۷٦۰.
٥. ابن ماجه، سنن ابن ماجه، ج۲ ص ۱۱۹۲. رقم الحدیث:۳٦۰٥.

جَارٍ [١]» (رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سعد رضی الله عنه باندې تېرېده چې هغه اودس کاوه، نو ورته کړل یې: (دا څه اسراف دی اې سعده!) سعد وویل: ایا په اوداسه کې هم اسراف شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (هو، که څه هم پر روانه ویاله باندې وي).

د مناسب مصرف او سپما په هکله مونږ ته ښه الګو او مثالي شخصیت چې اقتداء پسې واجب ده، هغه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دی، د هغه د اوداسه د اوبو په هکله ، له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت نقل شوی دی: قَالَ: « كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ، وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ [٢]». ژباړه:حضرت انس رضی الله عنه وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په یوه مد اوبه باندې اودس او له یوه صاع څخه تر پینځو امدادو پورې غسل کاوه.

مد د فقهاؤ په اتفاق سره د صاع څلورمه برخه ده[٣] او مد چې په اوس وخت کې په لیترو سره محاسبه شي نو یو مد له (١,٠٤٣) لیتره سره برابر دی[٤]. د غسل د اوبو اندازه یې لږ څه باندې ٥ لیتره کېږي.

همدا ډول په اوبو کې اسراف د شیطان کار بلل شوی دی لکه له ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت دی: «عن النبيَّ صلى الله عليه وسلم قال: "إنَّ لِلوُضوءِ شيطانًا يُقالُ له: الوَلْهَانُ، فاتَّقُوا وِسْواسَ الماءِ"[٥]» ژباړه: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د اوداسه خپل شیطان وي چې ولهان ورته وایي، نو د اوبو له وسواس څخه ځانونه وساتئ!.

امام بخاري رحمه الله وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا بیان کړی دی چې د اوداسه فرض اندازه، یو یو ځلي منځل، دوه – دوه ځلي مینځل او درې ځلي او رسول الله صلی الله علیه وسلم له درې ځلي څخه زیاتوالی نه دی کړی او علماوو په اوبو کې اسراف مکروه ګڼلی دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له فعل څخه یې تجاوز هم مکروه ګڼلی دی[٦].

١. مسند أحمد، ج ١١ ص ٦٣٧. رقم الحدیث: ٧٦٥.
٢. النیسابوری، مسلم بن الحجاج. صحیح مسلم. ج ١ ص ١٧٧. ط؟، مصر: مطبعة السعادة، ١٣٧٤هـ ق. رقم الحدیث: ٣٢٥.
٣. الموسوعة الفقهیة الکویتیة، ج ٣٨ ص ٣٠٢.
٤. عبدالحمید المجالي، مبادئ ترشید استهلاك المیاه في الفقه الاسلامي، ص ١٠.
٥. الترمذي، أبوعیسی. سنن الترمذي، ج ١ ص ٧٥. ط ١، ناشر: دارالرسالة العلمیة، ١٤٣٠هـ ق. رقم الحدیث: ٥٧.
٦. أبوعبدالله البخاري، صحیح البخاري ج ١ ص ٦٣.

په حنفي مذهب کې که څه هم شرنبلالي رحمه الله په اوداسه کې د اندامونو درې ځلې مینځل سنت بللي دي[۱]، مګر صحیح قول دادی چې اول ځل مینځل فرض او دوه ځلې نور مینځل يې سنت دي[۲]. او په سنت اندازه باندې يې زیاتوالی مکروه دی[۳]. علامه حصکفي رحمه الله يې مکروه تحریمي بولي، که څه هم د لویې ویالې اوبه وي او یا يې خپلې مملوکې وي او په وقفي اوبو کې اسراف بیا حرام بولي[٤].

په اوبو کې له اسراف څخه پر منع باندې علماوو اجماع کړې ده که څه هم د دریاب پر غاړه هم وي[٥]، خلاصه دا چې د یوه کس په لاسته راوړل شوي حلالو کې اسراف، افساد، کبر، تفاخر او تکاثر دا ټول حرام دي[٦].

**۳. ۷. د اوبو په زیات مصرف کې له عامه ضرر څخه منع**

دا چې د اوبو د زیات مصرف له امله د ځمکې لاندې اوبو سطحه په تېزۍ سره ټیټېږي او له دې امله په ملي سطحه یو عمومي ضرر رامنځته شوی دی[۷]، نو د دغه عمومي ضرر څخه د مخنیوي په هکله په اسلامي شریعت کې ځېنې منل شوي قاعدې شتون لري چې اصل او سرچینه يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه وینا ده چې فرمايي: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ[۸]» یعنې په اسلام کې نه بل ته ضرر رسول شته او نه د ضرر به مقابل کې ضرر شته. یعنې هیڅاته روا نه دي چې بل چا ته ضرر ورسوي او یا د بل چا د ضرر په مقابل کې هغه ته ضرر ورسوي[۹].

---

۱. الشرنبلالي، حسن بن عمار. نور الإيضاح ونجاة الأرواح. ص22. ط ؟. الناشر: المكتبةالعصرية. ١٢٤٦هـ ق.

۲. ابن نجيم، زين الدين. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري. ج1ص24. ط ۲. دارالكتاب الاسلامي. ب ت.

۳. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح: ص80.

٤. الحصكفي، محمد بن علي. الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار. ص23. ط ۱. بيروت: دارالكتب العلمية. ۱۴۲۳هـ ق.

٥. العظيم آبادي، عون المعبود وحاشية ابن القيم، ج1 ص 118ط ۲، بيروت: دارالكتب العلمية، ۱۴۱۵هـ ق.

٦. محمدبن أحمدالسرخسي، المبسوط. ج ۳۰ ص ۲۶۶.

۷. https://www.mercycorps.org/sites/default/files/2025-05/crisis-analysis-team-kabul-water-april-2025.pdf

۸. سنن ابن ماجه، ج۲ ص ۷۸٤.

۹. الزحيلي، محمدمصطفى. القواعد الفقهية وتطبيقاتها في المذاهب الأربعة، ج۱ ص ۱۹۹.ط۱، دمشق: دارالفكر، ۱۴۲۷هـ ق.

د دې اصل لاندې فقهاؤ رحمهم الله د ضرر په هکله ګڼ شمېر قواعد وضع کړي دي: لکه: «الضَّرَرُ يُزَالُ»[١]( ضررر لرې کېږي) یا داقاعده: «يُتَحَمَّلُ الضَّرَرُ الْخَاصُّ؛ لِأَجْلِ دَفْعِ ضَرَرِ الْعَامِّ»[٢]. (د عام ضرر د دفع په خاطر باندې خاص ضرر تحمل کیدی شي. یا دا قاعده: «الضَّرَرُالْأَشَدُّ يُزَالُ بِالْأَخَفِّ[٣]» سخت ضرر په سپک ضرر سره لرې کیدلی شي. همدا ډول بله قاعده: «إذَا تَعَارَضَ مَفْسَدَتَانِ رُوعِيَ أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا[٤]» کله چې دوه فسادونه سره ټکر شي، نو دسپک (کم اواړه) ضرر په ارتکاب سره به د ضرر له مخې د لوی فساد مراعت کېږي.

د همدغو قواعدو له امله عمومي فساد او ضرر ته په اسلامي شریعت کې ترجیح ورکول کېږي او په شخصي فساد او ضرر باندې سترګې پټېږي او له نظره غورځول کېږي. له همدې امله خو په اسلامي شریعت کې له مباحو شیانو څخه استفاده تر هغې اندازې پورې روا ده چې عمومي او نورو انسانانو ته پکې ضرر نه وي، که ضرر پکې وه، بیا ممانعت کېدای شي، لکه د مجلة الاحکام یوه ماده ده: «الْمَادَّةُ (١٢٥٤) يَجُوزُ لِكُلِّ أَحَدِ الِانْتِفَاعُ بِالْمُبَاحِ ، لَكِنَّهُ مَشْرُوطٌ بِعَدَمِ الْإِضْرَارِ بِالْعَامَّةِ[٥]» هرچاته پر مباح شي باندې نفع اخېستل روادي، مګر په دې شرط سره چې عامو ته به ضرر پکې نه وي.

همدا ډول زیلعي رحمه الله لیکي: «إنَّ لِلإِنْسَانِ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي مِلْكِهِ مَا شَاءَ مِنَ التَّصَرُّفَاتِ مَا لَمْ يُضِرَّ بِغَيْرِهِ ضَرَرًا ظَاهِراً[٦]». بې شکه انسان په خپل ملک کې څه ډول چې خوښه وي تصرفات کولای شي، خو تر څو پورې چې بل چا ته ښکاره ضرر نه وي، که چېرته له مباح شي څخه په استفاده کې ضرر وه ، که عام ضرر وه، نو هر یو څوک که مسلمان وي او که ذمي وي منع کولای یې شي او که یوه کس ته خاص ضرر وه، نو هغه متضرر کس یې منع کولای شي[٧].

---

١. ابن نجیم، زین الدین. الأشباه والنظائر على مذهب أبي حنيفة النعمان، ص٧٢. ط١، بیروت: دارالکتب العلمية، ١٤١٩هـ ق.

٢. مخکینی مرجع: ص٧٤.

٣. مخکینی مرجع: ص٧٥.

٤. مخکینی مرجع: ص٧٦.

٥. مجلة الأحكام العدلية: ص ٢٤١.

٦. الزیلعي، عثمان بن علي. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي. ج٤ ص ١٩٦. ط١، قاهرة: المطبعة الكبرى الأميرية، ١٣١٤هـ ق.

٧. الأتاسي، محمدخالد. شرح مجلة الاحكام العدلية، ج٤ ص١٨٨. ط؟، کویته: المكتبة الحبيبية، ب ت.

پر مباح مال باندې په استیلاء کې د خلکو له سلطې څخه منع نه شي کېدلی، مګر ځینې عمومي قواعد دي چې د ګټې اخېستو د تنظیم او له ضرر څخه د مخنیوي پر موخه باندې د مباح مال له استعمال څخه منع رامنځته کوي[1]، همدارنګه دولت د عامه مصحلة په خاطر سره کولای شي چې مباح مقید کړي، لکه خلک چې د ځنګلونو له وهلو څخه منع کړي ترڅو د ځنګلونو یوه پراخه سرمایه ولري[2].

### ۳. ۸. د اوبو له ککړتیا څخه منع

اوبه چې په نړیواله سطحه یې اهمیت ورځ تر بلې ورځې لوړیږي، خصوصا خوړې اوبه چې انسانان یې د څښاک لپاره استعمالوي، ککړتیا یې د انسانانو او حیواناتو پر صحت باندې بدې اغېزې کوي، نو له همدې امله خو په اسلامي شریعت د اوبو له ککړتیا څخه منع راغلې ده، لکه له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی: « قَالَ: زَجَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ[3]» وایی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سخته منع کړې ده چې په ولاړو اوبو کې څوک تشې میتیازې کوي. همدا شان له ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی: «يقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: "لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ النَّاقِعِ"[4]» هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ویل: هېڅکله دې یو د تاسې په ولاړو /ډب شویو اوبو کې تشې میتیازې نه کوي.

دا چې د اوبو ککړتیا د انسان صحت ته زیان رسوي، نو په ځمکه کې یو فساد بلل کېږي او د فساد څخه په شریعت کې منع راغلې ده، حرام بلل شوی دی، لکه الله جل جلاله فرمايي: وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا[5] ژباړه: په ځمکه کې د هغې له اصلاح څخه وروسته فساد مه کوئ!).

یعنې په ځمکه کې له اصلاح وروسته هېڅ شی مه فاسدوئ، کوم چې رسولانو او د هغوی اتباعو، مخلصو هوښیارو عالمانو اصلاح کړي دي، که مادي وي یا معنوي، لکه د ژوند وسائل( زراعتي، صنعتي، تجارتي) او ښه اخلاق، عدل، شوری، مرسته او یو پر بل باندې رحم[6].

۱. الموسوعة الفقهية الكويتية: ج4 ص 162.
۲. الزحيلي، وهبة. الفقه الإسلامي وأدلته، ج٦ ص ٤٥٦٦. ط ۴، دمشق: دارالفكر، ب ت.
۳. مسند أحمد: ج۲۳ ص ۳۲. او صحیح مسلم ج ۱ ص ۱٦۲.
٤. «سنن ابن ماجه: ج ۱ ص ۲۲۷.
٥. الأعراف: ٥٦آیت.
٦. وهبة الزحيلي، التفسير المنير ج۸ ص ۲٤۰.

**پایلیزه**

د دې څېړنې وروسته دې پایلو ته رسېږو:

۱- چې په اسلامي شریعت کې اوبه د ژوندیو موجوداتو د ژوند لپاره یو اساسي سبب بلل شوې دي چې د حیواناتو او نباتاتو له ژوند سره مستقیما اړیکه لري، د الله جل جلاله د وحدانیت او قدرت نښه، د پاکوالي مهمه وسیله، د کرنیز اقتصاد یو مهم عنصر او بالاخره د الله جل جلاله له لوري بشریت ته د یو لوی نعمت په توګه پیرزو شوې دي.

۲- اوبه چې د خلکو تر منځ شریکې او د هغوی لپاره یو مباح مال دی، په استعمال کې یې له حده تېرى، اسراف او بې ځایه مصرف ناروا دی، د اوبو ساتنه، له ککړتیا او د اوبو اړوند له عام ضرر څخه مخنیوی شرعي مسئولیت دی.

**وړاندیزونه**

۱- د جوماتونو خطیبان مسؤلیت لري ترڅو خلک د اوبو د ساتنې په ارزښت او د بې ځایه مصرف په بدو عواقبو باندې پې وپوهوي.

۲- د اسلامي امارت مربوطه ادارات دې د اوبو د بې ځایه مصرف څخه د مخنیوي په موخه کوټلي ګامونه واخلي.

۳- په ټولنه کې مخور علماء دې په دې اړه مجلسونه دایر کړي او په دې اړه دې عامه پوهاوی زیات کړي.

۴- د عصري علومو استادان او څېړونکي دې د اوبو د ساتنې او له بې ځایه مصرف څخه د مخنیوي په اړه علمي طرحې وړاندې کړي.

**اخځلیکونه**

قرآن الکریم.

ابن الجوزي، جمال الدین أبوالفرج. *زاد المسیر في علم التفسیر*. ط ۱. بیروت: دارالکتاب العربي. ۱٤۲۲هـ ق.

ابن حنبل، أحمد. *مسند الإمام أحمد بن حنبل*. ط ۱. ناشر: مؤسسة الرسالة. ۱٤۲۱هـ ق.

ابن عابدین، محمدأمین. *حاشیة رد المحتار، علی الدرالمختار*. ط ۲. مصر: مصطفی البابي الحلبي. ۱۳۸٦هـ ق.

ابن فارس، أبوالحسین أحمد. معجم *مقاییس اللغة*. ط ۲. بیروت: دارالفکر. ۱۳۹۲هـ ق.

ابن کثیر، عمادالدین. *تفسیر القرآن العظیم*. ط ۱. السعودیة: دار ابن جوزي. ۱٤۳۱هـ ق.

ابن ماجه، محمدبن يزيدالقزويني. *سنن ابن ماجه*. ط؟. تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي. ناشر: دارالاحياء الكتب العربية. ب ت.

ابن منظور، محمد بن مكرم. *لسان العرب*. ط٣. بيروت: دارصادر. ١٤١٤هـ ق.

ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم. *الأشباه والنظائر على مذهب أبي حنيفة النعمان*. ط١. بيروت: دارالكتب العلمية. (١٤١٩ه ق).

ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم. *البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري*. ط٢. دارالكتاب الاسلامي. ب ت.

الأتاسي، محمد خالد. *شرح مجلة الاحكام العدلية*. ط؟. كويته: المكتبة الحبيبية. ب ت.

البخاري، أبوعبدالله. *صحيح البخاري*. ط٥. دمشق: دار ابن كثير. ١٤١٤هـ ق.

الترمذي، أبوعيسى. *سنن الترمذي*. ط١. ناشر: دارالرسالة العلمية. ١٤٣٠هـ ق.

الجوزية، ابن القيم. *زادالمعاد في هدي خيرالعباد*. ط١. بيروت: مؤسسة الرسالة. ١۴١٧هـ ق.

الجوهري، ابونصر إسمعيل. *الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية*. ط٤. بيروت: دارالعلم للملايين. ١٩٨٧م.

الحصكفي، محمد بن علي. الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار. ط١. بيروت: دارالكتب العلمية. ١۴٢٣هـ ق.

الرازي، فخرالدين. *مفاتيح الغيب = التفسير الكبير*. ط٣. بيروت: دار إحياء التراث العربي. ١٤٢٠هـ ق.

الرومي، شمس الدين أحمد. *تفسير ابن كمال باشا*. ط١. اسطنبول: مكتبة الإرشاد. ١٤٣٩هـ ق.

الزحيلي، محمدمصطفى. *القواعد الفقهية وتطبيقاتها في المذاهب الأربعة*. ط١. دمشق: دارالفكر. ١٤٢٧هـ ق.

الزحيلي، وهبة. *التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج*. ط١. دمشق: دارالفكر. ١٤١١هـ ق.

الزحيلي، وهبة. *الفقه الاسلامي وأدلته*. ط۴. دمشق: دارالفكر. ب ت.

الزيلعي، عثمان بن علي. *تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي*. ط١. قاهرة: المطبعة الكبرى الأميرية. ١٣١٤هـ ق.

السجستاني، أبوداود سليمان. *سنن أبي داود*. ط١. ناشر: دارالرسالة العالمية. ١٤٣٠هـ ق.

السرخسي، محمدبن أحمد. *المبسوط*. ط؟. مصر: مطبعة السعادة. ب. ت.

السمرقندي، علاء الدين. *تحفة الفقهاء*. ط٢. بيروت: دار الكتب العلمية. ١٤١٤ هـ ق.

الشرنبلالي، حسن بن عمار. *مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح*. ط١. الناشر: المكتبة العصرية. ١٤٢٥هـ ق.

الشرنبلالي، حسن بن عمار. *نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي*. ط؟. الناشر: المكتبةالعصرية. ١٢٤٦هـ ق.

الطبري، ابن جرير. *جامع البيان عن تأويل آي القرآن*. چاپ۱. قاهرة: دارهجر للطباعة. ١٤٢٢هـ ق.
العظيم آبادي، محمد أشرف. *عون المعبود شرح سنن أبي داود وحاشية ابن القيم*. چاپ۲. بيروت: دارالكتب العلمية. ١٤١٥هـ ق.
الفيومي، أحمد بن محمد. *المصباح المنير في غريب الشرح الكبير*. ط؟. بيروت: المكتبة العلمية. ب ت.
قلعجي، محمدرواس او قنيبي، حامدصادق. *معجم لغة الفقهاء*. ط۲. الناشر: دارالنفائس. ١٤٠٨هـ ق.
المجالي، عبدالحميد. *مبادئ ترشيد استهلاک المياه*. مجلة: دراسات علوم الشريعة والقانون، المجلد ۳۲. العدد۲. ۲۰۰۵. ۲۷۳ – ۲۸۸.
*مجلة الأحكام العدلية*. ط؟. كراتشي: آرام باغ. ب ت.
مجمع البحوث الاسلامية بالأزهر. *التفسير الوسيط للقرآن الكريم*. ط۱. مصر: المطابع الأميرية. ١٤١٤هـ ق.
مصمم، محمد سردار. *کیمیا تحلیلي مقاری*. (ط؟). کابل: انتشارات جهان اسلام. ۱۳۹۸هـ ش.
النيسابوري، مسلم بن الحجاج. *صحيح مسلم*. ط؟. قاهرة: عيسى البابي الحلبي. ١٣٧٤هـ ق.
وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية. *الموسوعة الفقهية الكويتية*. ط۲. الكويت: دارالسلاسل. ١٤٢٧هـ ق.

Two Quarterly
Ainak Academic – Research Journal
Logar University Journal License Date: June/ 2023

# قيمة الماء ، حفظه و إدارته في الشريعة الإسلامية

الأستاذ المساعد: محيب الرحمن خدام
قسم الفقه والقانون، كلية الشريعة، جامعة لوجر.
عنوان البريد الإالكتروني: .muhebseyaad@gmail.com

## المستخلص

هذه مقالة تحقيقية تم فيها الدراسة حول قيمة الماء من خلال النصوص الشرعية ، والقواعد العامة المتعلقة بحماية المياه وإدارته في ضوء الشريعة الإسلامية ، وتهدف البحث إلى خلق وعي عام لدى الجمهور حول الاستخدام الصحيح للمياه مع الأخذ بالتوصيات والقواعد العامة للشريعة الإسلامية ، ومنهج البحث فيها تحليلي، تشير نتائج البحث أن للماء أهمية بالغة في نصوص القرآن الكريم ، وقدحرم الإسراف فيه تحريما قاطعا ، كما وضع الفقهاء قواعد مهمة لإدارة موارده، مستمدة من نصوص الشريعة ، والتي عند تطبيقها ، تُسهِم في الحفاظ على الماء ويمنع الهدر والندرة. وتستخلص الدراسة إلى أن ترشيد استهلاك المياه ومنع الضرر العام المتعلق بالماء واجب ديني ؛ لأن ذلک مقتضى النصوص الشرعية المتعلقة بمنع الإسراف ، والقواعد العامة الواردة في منع الضرر.

***الكلمات المفتاحية:*** إدارة المياه، الإسرف، الترشيد، الشريعة الإسلامية، الماء.

الاستناد: الاستاذ خدّام، محيب الرحمن. (١٤٠٤هـ) .**قيمة الماء وحفظه وإدارته في الشريعة الإسلامية**. *المجلة العلمية-البحثية نصف السنوية «عينك»*، المجلد ٣، ٥، الصفحات ٢٢٧- ٢٤٩

©حقوق المؤلف. جامعة لوجر.